**د امنيت شورا ته د افغانستان لپاره د عمومي منشي د ځانګړي استازي لنډه وينا،**
**د سپتمبر ۱۹، ۲۰۱۳**

ښاغلی رييس او د امنيت د شورا محترمو غړو سهار مو په خير،

تيره اونی د جنوبي اسيا د فوټبال د اتلولۍ په لوبو کې د افغانستان د فوټبال د ټيم لومړنی نړيوال بریالیتوب و، چې د ملي يووالي او ملي غرور په ډکو ولولو سره ولمانځل شو، زه خپلو افغان دوستانو ته د دې بريا له امله مبارکي وايم او هيله من يم چې دغه بريا به په افغانستان کې د تدريجي ارامي او هوسايني يوه نښانه وي.

د تيرو دريو مياشتو راهيسې چې زه دلته حاضر وم، افغانستان په سياسي او امنيتي ليږد کې پرمختګونه کړي دي، خو وضعه لا اوس هم نا ارامه او له سترو ننګونو سره مخ ده، خو هڅې لا همدغسي جريان لري.

له هغه وخت راهيسې په امنيتي پېښو کې د ۲۰۱۲ په پرتله زياتوالی راغلی، خو دغه زياتوالی د ۲۰۱۱ کال تر بريده نه دی رسيدلی. د دولت ضد عناصرو په خپلو خونړيو بريدونو کې تر ډيره حده افغانان– ملکي حکومتي وګړي- په نښه کړي دي چې دغه کسان په داسي ولسواليو کې اوسيدل چې پخوا ارامې وې، خو له دې سره سره دوي و نه توانيدل چې په نظامي لحاظ مهمې برياوې تر لاسه کړي. د تاوتريخوالي زياتره پيښې په داسې ځايونو کې رامنځ ته شوې، چې ګڼ ميشته سيمې نه دي.

افغان ملي اردو او پوليس دواړو ښه زړورتيا او وړتيا ښودلې ده، چې د امنيتي چارو د ليږد په دوران کې له ننګونو سره مقابله وکړي. سره له دې چې دوي په خپلو ليکو کې درانده تلفات ليدلي دي خو په پرلپسې ډول يې په خپل ځان باور مونډلی او د خلکو اعتماد يې تر لاسه کړی دی. له موږ څخه هم غوښتنه شوې چې په دوي باور وکړو.

خو له دې سره، د افغان امنيتي ځواکونو وړتياوې لا تر اوسه په بشپړ ډول نه سمبالي او نه پاينټ لرونکي بريښي. د ايساف عمومي قوماندان جنرال دندفورډ په دې وروستيو کې ويلي دي، چې نړيوالي مرستي به تر راتلونکو پنځو کلونو پورې اړيني وي، څو افغان امنيتي ځواکونه وکولای شي، چې په بشپړ ډول خپلواک عمليات ترسره کړي.

زه د ډير شمير دوه اړخيزو همکاريو د تړونونو هر کلی کوم، چې په شيکاګو کې د څو اړخيزو ژمنو په چوکاټ کې تر سره کيږي او دغه مرستې د جديت او اوږد مهاله نړيوال ملاتړ څرګندوي دي.

ښاغلی رييس،

په ۲۰۱۴ کال کې ټاکني د افغانستان د سياسي ژوند تر ټولو مهمه او لومړۍ موضوع ده. په عمومي ډول، تر هرې بريا د مخه مهمه خبره دا ده، چې د اساسي قانون سره سم او په خپل وخت د ټاکنو له لارې په با ثباته توګه د مشرتابه ليږد تر سره شي.

ولسمشر کرزی په وروستيو کې بيا هم په دې ټينګار کړی، چې ټاکني به ترسره کيږي، او په دې ډول د دې حقيقت پيژندنه کوي، چې د ده په وينا "له ټاکنو پرته په ځواک کې پاتې کيدل به د سيستم د مشروعيت په اړه پوښتني راولاړې کړي."

په تيرو دريو مياشتو کې د تخنيکي چمتوالي په برخه کې مهم پرمختګونه شوي دي. په دې کې د دوو مهمو قوانينو تصويبول او د ټاکنو د تنظيم په اړه د دوو خپلواکو ټاکنيزو ارګانونو ټاکل او د ولسواليو په کچه د رايه اچوونکو د ثبتولو د پروسې

پیلول، شامل دي. د ثبتولو په هڅو کې د شپږو اونیو نوره موده به له دې سره مرسته وکړي، چې د ښځو په ګډون تر زیاته حده د خلکو ګډون تضمین کړي.
له روژې د میاشتې راهیسې د ثبت پروسه ګړندۍ شوې ده، چې له یو میلیون څخه زیات نوي د رایې اچونې کارتونه ورکړل شوي، چې نږدې له ۳۰ سلنې زیات یې ښځو ته رسیدلي دي.
زه د افغان چارواکو د هغې پاملرنې هر کلی کوم، چې دوی یې د ټاکنو د امنیت په اړه کوي. د امنیتي موسساتو ترمنځ ښه همغږي، د امنیتي وضعې دقیقه ارزونه، د ګوابښونو د کمولو لپاره د اقداماتو پلان او تطبیقول او د عامه پوهاوي له لارې د باور زیاتول اوس نور اړین ګامونه دي.
یو ځل بیا هم ولسمشر کرزی دا حقیقت منلی دی او زه د ده خبره را نقل کوم ''هرې ټاکنې له نه ټاکنو څخه ښې دي. موږ د امنیتي اندیښنو له امله ټاکنې نه شو ځنډولی.''
د دې اونۍ په پیل کې د نوماندانو د ثبت پروسه پیل، چې له دې سره سیاسي سیالي په رسمي ډول هم پیل شوه. دوي باید د افغانستان د راتلونکي په اړه خپل لرلیدونه څرګند کړي، څو رایه اچوونکي وکولای شي، چې د دوي ترمنځ انتخاب وکړي.
اوس باید له دې څخه ډډه وشي، چې په مستقیم یا غیر مستقیم ډول د تنګو قومي یا ګروپي ګټو لپاره کار وشي. په ډیموکراتیک ډول د سیاسي ځواک لیږد باید له ملي یووالي سره مرسته وکړي.
د سیالیو لپاره یو متوازن چاپیریال چې دولتي منابعو ته برابر لاس رسی د خبري رسنیو له خوا په متوازن ډول پوښښ ورکول د یوې عادلانه پروسې ډیرې مهمې خواوې ګڼل کیږي. په دې اړه اوس ډیرې اندیښنې موجودې دي، چې د رسنیو لپاره په ځانګړي ډول د ټاکنو په دې دوران کې د یو مناسب قانوني چوکات جوړول ډیر ورو او سوکه دی او د ژورنالیستانو په وړاندې تاوتریخوالی چې د زیاتیدو په لور دی، اوس هم د اندیښنې وړ دی.

ښاغلی رییس ،

د سیمې په کچه د افغانستان سره د دوه اړخیزې او ګڼ اړخیزې جوړونکې ښکیلتیا د اړتیا په اړه پوهاوی او درک زیاتیږي. د ننګونو لیږدیزه ځانګړتیا – چې په هغو کې بې ثباتي، ترهګري، د وګړو بیځایه کېدنه، او مخدره توکي شامل دي – او همدارنګه هغه امکانات چې د سوداګرۍ، زیربناوو او اتصالاتو په برخه کې دي – د یو هېډو وړ بریښي.

زه په ایران او پاکستان کې د نوي مشرتابه د راتلونکو ښکیلتیاوو په اړه د ورکړل شوو لومړنیو مثبتو سیګنالونو هر کلی کوم
.

اسلام اباد ته د جمهور رییس حامد کرزی سفر د خورا زیات اهمیت وړ و. د اړیکو په برخه کې یوه نوې لهجه لیدل کیږي چې ورسره د بې باورۍ فضاء کمیږي.

دا مطلب د پاکستان د صدراعظم د مشاور ښاغلي سرتاج عزیز په ویناوو کې تایید شوی او هغه په داسې اساسی او واقعي هڅو باندې ټینګار کړی چې له مخې یې د افغان مشرتابه او افغان مالکیت د لاندې د سولې د پروسې لپاره اسانتیاوې برابرې شي. هغه د دې اعلان کړی چې پاکستان په افغانستان کې د هیڅ اړخ په پلوۍ کې نه دی او دا چې پالیسي یوه ده او هغه هم د " نه مداخلې " پالیسي ده.

د افغانستان چارواکي هم په "منطقی توګه هیله من دي" او دا چې هغوي د پاکستان د نوي حکومت سره د ښې همکارۍ غوښتونکي دي. د اعتماد جوړولو چارې او تدبیرونه چې په کې د اقتصادي پرمختیا سیمه شامله ده کولای شي چې د ګډو ګټو او ښیرازۍ د لارې تر لاسه شي.

د استانبول پروسه د یوې با ارزښته سیمه ییزې پروسې په توګه دوام لري چې ورسره افغانستان په واقعي ډول د " اسیا د زړه" په توګه ځاې نیسي. زه د چین د خلکو د جمهوریت د هغو تیاریو هر کلی کوم چې له مخې به یې هغه د ۲۰۱۴ کال د وزیرانو د کچې د غونډې کوربه وي. تاکید او ټینګار تر هر څه د مخه د افغانستان او پراخې نړیوالې ټولنې سره په ګډو مسوولیتونو دی چې په کې د سیمې د هیوادونو د زیاتېدونکې ښکیلتیا دلارې د پاینت لرونکو حل لارو باوری کول شامل دي.

په ریښتیا سره چې په سیمه کې زما د سفرونو په ترڅ کې دا په واضحه توګه د پوهاوي وړ وګرځېدله چې د سیاسي حل لارې په افغانستان او سیمه کې د پاینت لرونکې سولې، امنیت او اقتصادي ښیرازۍ لپاره کلیدي دي. تر هر څه د مخه د افغانستان لپاره د دې مانا ټاکنې دي چې د هغو په پایله کې په مشروع او سوله ییز ډول ځواک ولیږدول شي. تر دې په پراخه پیمانه باید د سولې او پخلاینې لپاره لکه چې د ګاونډي هیوادونو سره زما د بحثونو په لړ کې وربانديې تاکید شوی دی د وړاندې څخه پیل شوی ډیالوګ شامل وي.

ملګري ملتونه د خبرو اترو او ډیالوګ څخه خپل ملاتړ ته ادامه ورکوي. موږ د دې هیله لرو چې د سولې او پخلاینې د دغه ډیالوګ لپاره به په متقابل ډول په نوو منل شویو لارو چارو ژر تر ژره موافقه وشي او عملي به شي.

ښاغلی رییس،

مخدره توکي په افغانستان کی دننه او بهر د یوې کلیدي ستونزې په توګه پاتې دي. د افغانستان د مخدره توکو سره د مبارزې وزارت او د ملګرو ملتونو د مخدره توکو او جرمونو سره د مبارزې دفتر ( یو این او ډي سي) د کلنی سروې موندنو وښودله چې په ۲۰۱۲ کال کې د چرسو د بوټو په کښت کې کمښت لیدل شوی – خو زیاتو حاصلاتو د چرسو په تولید کې زیاتوالی راوستی دی. زه تر زیاته بریده د هغو ارزونو څخه په اندیښنه کې یم چې سږ کال به بیا د کوکنارو په کښت کې لا زیاتوالی ولیدل شي- او د " کوکنارو څخه د پاکو" ولایتونو د شمېرې ټیټوالی به دوام ومومي.

ښاغلی رییس،

د ملګرو ملتونو د بشری حقونو کمیشنره ناوي پیلي دا اونۍ په کابل کې وه او د جمهور رییس کرزي او مشرو چارواکو سره او د مدني ټولنې د استازو او بشري حقونو د فعالینو سره یې لیدنې درلودلې.

آغلې پیلي د بشري حقونو په ځینو ساحو کې د ستاینې وړ پرمختګونه او د جمهور رییس او نورو کلیدي چارواکو له اړخه ژمنې یاد داښت کړې. خو د دې سره هغې خپله اندیښنه په دې اړه جوته کړه چې د بشري حقونو د ښه والي په برخه کې تحرک نه یوازې دا چې پورته خواته ځي بلکې هغه مخ په کمرنګ کیدو دی. هغې د جمهور رییس او حکومت څخه د لا زیاتو هڅو د ترسره کولو غوښتنه وکړه چې عدالت او بشري حقونه – په تیره بیا د ښځو حقونه باوري کړي – دا چې دغه حقونه باید محفوظ او تحکیم شي نه دا چې هغه د پامه وغورځول شي او یا هم د سیاسي مصلحتونو قرباني شي.

د بشري حقونو او حساب ورکونې مسایل باید د ټولو سیاسي، پراختیایي او اړوندو امنیتي مسایلو د هڅو د ټولو کرښو په کچه کې مسیر بندي شي.

د ملکي وګړو په تلفاتو کې زیاتوالی د ژورې اندیښنې وړ خبره ده، د ملکي کسانو د تلفاتو زیاتره برخه حکومت ضد عناصرو، سرکښ او جنایي وسله والو ډلو ته منسوب کیږي. د ملکي کسانو هدفي وژنې او د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو کارول ډیر پیښیدونکي تاکتیکونه دي.

د دې مودې پر مهال په وژنو کې د کندز د استناف د محکمې مشر، په کندز کې د مشر انتخاباتي کارکونکي، په پروان کی د ولسوالي د ښووني د مشر او په جوزجان کې د واکسین په کمپاین کې د یوې ځواني ښځې برخه والي وژل کیدل شامل دي. البته، د ښځو پر وړاندې مخ پر زیاتیدونکي بریدونه د زیاتي اندیښني وړ دي. تیره دوشنبه، د هلمند په ولایت کې یوه زړه وره ښځینه پولیس آفسره بریدمنه نګاره د هغې د پخوانی ځای ناستې اسلام بی بی په څیر کومه چې د روان کال په لومړیو کې هدف وګرځول شوه، ووژل شوه.

د طالبانو خوځښت په خپلو عامه بیانو کې په دوامداره توګه ویلی، هغه څوک چې د حکومت سره تړلي وي او یا د حکومت سره په ملاتړ کې ولیدل شي، برید به پرې وشي. په دې کې ښوونکي، قضایي چارواکي او ملکي کارکونکي شاملیږي او دا نړیوال بشر دوستانه قانون څخه ښکاره سرغړونه ده.

ښاغلی رییس،

د زیات نا څرګندوالي په وړاندې اغیزه او تاوتریخوالی د وګړو بې ځایه کیدنه زیاته کړې. په اوس حال کې نیم میلیون وګړي د هیواد په داخل کې بې ځایه شوی دي، د روان کال په لومړیو اوو میاشتو کې د ۱۰۰۰۰۰ څخه زیات کسان په داخل کې بې ځایه شوی دی. په عین حال کې، د ۲۰۱۲ کال د ورته مودې په پرتله هیواد ته د راستنیدونکو کډوالو په شمیر کې ۴۱ سلنه کموالی راغلی. خوښ یم یادونه وکړم چې اوس د تمویل کوونکو د ټولني له خوا په افغانستان کې د بشر پالني د عمومي صندوق د ملاتړ په موخه موافقه او ژمنه موجوده ده، تمه کیږي چې دا به د ۲۰۱۴ کال په لومړیو کې په فعالیت پیل وکړي.

ښاغلی رییس،

د هیواد د لیږد د پروسی په عنصرونو کی د پام وړ پرمختګ شوی. په عین حال کې، په خاص ډول د امنیت او نشه يي توکو سره د مبارزی په برخه کې ننګوني موجودې دي.
د توکیو د حساب ورکوني د دوه اړخیزه چوکاټ لاندې د دوه اړخیزو ژمنو د ترلاسه کولو په برخه کې زیاتو هڅو ته اړتیا لیدل کیږي. د ټولټاکنو د تیاریو په هکله تمرکز باید د داسي مسلو لکه د اداري فساد په وړاندې د مبارزې، د قانون د حاکمیت او د اقتصادي ودې څخه پام وا نهړوي. دا به د افغانستان د نهایي موسساتي او مالي پایداري څخه ډاډ حاصل کړي.
زه د افغان موسساتو د پیاوړتیا، د افغانستان د ځمکنۍ بشپړتیا او افغان حل لارو په برخه کې د روان خوځښت څخه د ډاډ په موخه د سیمې د مثبت ملاتړ د سیګنالونو او د نړیوالي ټولني د روانو ژمنو ستاینه کوم.
له پاملرني مو مننه.